مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب الله زغم

۲۰۲۳/۰۹/۲۹

سورور سړکونه او د تېرېدونکو ستونزه

کله چې د کابل ډریوران د تنګو سړکونو له ساعتونو بیرو بار او لار بندیو خلاصېږي او نویو سورورو سړکونو ته رسېږي؛ نو اکسلېټر ته داسې لته ورکوي، چې ته وا د لاربندیو د انتظار کسات اخلي. دغه کار هغو خلکو ته د سر خطر پېښوي چې له سړکه تېرېږي.

سورور سړکونه چې څوک یې ځلوېښت مترہ بولي او څوک یې اویا مترہ له هوایي ډګرہ تر دہ کیږکه او بیا له باغ بالا څخه تر لب جرہ غځېدلي دي. د هوایي ډګر او دہ کیږك ترمنځ لاره کې کورونه نسبتاً لږ دي؛ خو په دې بله لاره د سړك دواړو غاړو ته کورونه، ښوونځي او بازارونه خورا ډېر دي. ټرافیکي پېښې هم په همدې سړك ډېرې پېښېږي. اوس چې د دارالامان او قرغې سړکونه هم ارتېږي، دولت ته پکار دہ چې د خلکو مصئونیت ته هم پام وکړي. په تېره بیا د ښوونځیو د زده کوونکو ژوند ته باید جدي توجه وشي. د دې کار لپاره دریٔ لارې دي. یا به هوایي پلونه جوړوي، یا به د ښوونځیو او بازارانو مخې ته پر سړك پیاده رو دهلېزونه رسموي او درېیمه لاره دا دہ چې تر ځمکې لاندې دې پلي لارې جوړې کړي.

هوایي پلونه نوره ښه وي؛ خو د ناروغانو او سپین ږیرو لپاره به سخته وي چې په دومره لوړو پوړیو وخېژي. د سړك پر مخ سپینې کرښې چې د پیاده رو مانا لري، ډرېوران مجبوروي چې هلته خپل موټر بیخي سوکه کړي او که څوك د تېرېدو په حال کې وي، باید موټر ورته ودروي؛ خو زمونږ په هېواد کې چې خلکو ته د ډرېورۍ لایسنس د کور شا ته وړل کېږي، اکثر ډرېوران په ټرافیکي قانون، اشارې او علامې هډو خبر هم نه دي. پاتې شوه درېیمه لار. که په هر تمځای کې د سړك لاندې لارې جوړې شي، څو ښېګڼې لري. اوله دا چې د پوړیو تر څنګ، د معیوبانو د بایسیکلونو لپاره پکې هوارې لارې هم جوړېدای شي او دا د خارجیانو خبره opportunity equal یا د ټولو لپاره یوخپل فرصتونه او امکانات هم برابروي. په غربي هېوادونو کې چې د معیوبانو شمېر خورا کم هم دی، هر څوك چې مارکېټ یا ښلېدنګونه جوړوي، د دولت له خوا مکلف کېږي چې د معیوبانو لپاره دې هوارې لارې جوړې کړي چې خپل بایسیکلونه پرې بوځي. زمونږ په ملك کې چې ډېر خلك جسمي ناتوانې لري، باید د هغوی ستونزو ته په هره برخه کې پام وشي.

له بلې خوا تر ځمکې لاندې د لارې ترڅنګ دوکانونه هم جوړېدای شي. که ښارولي دغه لارې جوړې کړي نو د دوکانونو کرایي به یې عواید زیات کړي او که دوی یې نه جوړوي، ممکن شخصي کمپنۍ به دې ته حاضر وي چې لارې جوړې کړي او خپله ګټه له دوکانونو واخلي. که هغو کسانو ته چې د لارو پر سر سوداوې کوي، په همدې لارو کې واړه واړه دوکانګي جوړ شي، خرما او ثواب دواړه به وي.

زمونږ په ښار کې د تشنابونو ستونزه هم ډېره ده. څوك چې ایران ته تللي، وایي چې هلته په پارکونو او عامه لارو کې تشنابونه تر ځمکې لاندې جوړ شوي دي. مونږ هم کولای شو چې د پیاده رو تر څنګ تشنابونه هم جوړ کړو او د پېښوریانو له هغه پېغوره ځان خلاص کړو چې وایي:

((جار دې شم کابله چې هر ځای دې غولخانه ده))

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ